د امیرِ اهلِ سنّت دامت برکاتہم العالیہ د کتاب "فیضانِ نماز" یو قسط

# د سحر د لمانځه فضائل

پښتو




شیخِ طریقت، امیرِ اہلسنّت، بانیِ دعوتِ اسلامي، حضرت علّامه مولانا ابو بلال

محمّد اِلیاس عطّار قادِري رَضَوي

دامت برکاتهم العالیة

اَلْحَمْدُ لِلّٰہِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ ط بِسْمِ اللّٰہِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط

دا مضمون د کتاب "فیضانِ نماز" د صفحه 85 تا 99 نه اخستے شوے دے.

# د سحر د لـمانځه فضائل

دعائے عطّار: یا رَبَّ الـمُصطفیٰ! څوک چې دا رسا له "د سحر د لـمانځه فضائل" اولولي یا واروي، هغه ته همیشه د سحر لـمونځ د جَمعې سره د ادا کولو توفیق ورکړې او د هغه بے حسابه بخښنه اوکړې-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

فرمانِ مُصطَفیٰ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم: ما تیره شپه عجیبه واقعه اولیدله، ما خپل یو اُمَّتي اولیدلو چې هغه په پُل صِراط باندې کله په ښویدلو او کله به په زنګونانو روان وو، په دې کښې هغه دُرُود راغے کوم چې هغه په ما باندې وئیلے وو، هغې هغه په پُل صِراط باندې اودرولو تر دې چې هغه په پُل صِراط باندې تیر شولو. (مُعْجَم کبِیر ج۲۵ ص۲۸۲ حدیث ۳۹)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## په پینځوو لـمونځونو کښې د فضیلت ترتیب

عَلَّامه عبدُ الرَّءُوف مُناوي رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: په پنځؤ واړو لـمونځونو کښې د ټولو نه افضل د مازدیګر لـمونځ دے، بیا د سحر لـمونځ بیا د ماسخُتن بیا د ماښام بیا د ماسپښین. او د پینځؤ واړو په جَمعو کښې افضل د جُمُعے **جَمعه** ده، بیا د سحر بیا د ماسخُتن. د جُمُعے **جَمعه** ځکه غوره ده چې په دې کښې څه داسې خُصُوصیات دي چې دا د نورو لـمونځونو نه مُمتاز [یعني غوره

كوي او د سحر او ماسخُتن جَمعي ځكه فضيلت والا دي چې په دې كښې مَشَقَّت (يعني محنت) زيات دے. (فيض القدير ج٢ ص٥٣)

## د لـمانځه پابندي به مو جَنَّت ته بوځي

د اللّٰهُ كريم آخري نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: **اللّٰه** پاك اِرشاد فرمائي چې ما ستا په اُمَّت باندې (شپه او ورځ كښې) پينځه لـمونځونه فرض كړي دي او ما دا عهد كړے دے چې څوك د دې لـمونځونو د هغو د وخت سره پابندي كوي زه به هغه جَنَّت ته داخلووم او چې څوك [ئې] پابندي نه كوي نو د هغه د پاره ما سره هيڅ عَهد نشته. (اَبو داؤد ج١ ص١٨٨ حديث ٤٣٠)

## د پينځؤ لـمونځونو عظيمُ الشّان فضائل

اِمام فَقِيه اَبُواللَّيث سمرقندي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د (تابعي بُزُرگ) حضرت كَعۡبُ الۡاَحبار رَضِيَ اللّٰهُ عَنۡهُ نه نقل كړي دي چې هغوئي فرمائي: ما په "تَورَيت" كښې په يو مقام كښې لوستلي دي چې (**اللّٰه** پاك فرمائي): اے مُوسىٰ! د سحر دوه ركعاته به اَحمد او د هغوئي اُمَّت ادا كوي، څوك چې هغه ادا كړي، د هغه، د هُغه ورځې او شپې ټول ګناهونه به معاف كړم او هغه به زما په ذِمّه كښې وي. اے مُوسىٰ! د ماسپښين څلور ركعاته به اَحمد او د هغوئي اُمَّت ادا كوي، هغوئي به د ورومبي ركعت په عِوَض (يعني بدله كښې) اُوبخښم او د دويم په بدله كښې به د هغوئي (د نيكو) تله دَرَنه كړم او د دريم په بدله كښې به فرښتے مُؤَكَّل (يعني مُقَرَّر) كړم چې تَسۡبِيۡح (يعني د **اللّٰه** پاك پاكي) به بيانوي او د هغوئي د پاره به مُسلسل د بخښنې دُعا كوي او د څلورم په بدله كښې به د هغوئي د پاره د آسمان دروازے فراخه (يعني برسيره) كړم، غټو غټو سترګو والا حُورې به په هغوئي مُشتاقانه (يعني د شوق نه ډك) نظر اچوي. اے مُوسىٰ! د مازديګر څلور ركعاته به اَحمد او د هغوئي اُمَّت ادا كوي نو په ووؤ آسمانونو او زمكه كښې به يوه فرښته باقي پاتې نه شي ټولې به د هغوئي بخښنه غواړي او ملائكه (يعني فرښتے) چې د چا بخښنه اوغواړي زه به هغه ته بالكل

عذاب نه ورکووم. اے مُوسیٰ! د ماښام درې رکعاته دي هغه به اَحمد او د هغه اُمَّت ادا کوي نو د آسمان ټولې دروازے به د هغوئي د پاره برسيره کړم، چې د کوم حاجت سوال کوي هغه به ضرور پوره کړم. اے مُوسیٰ! د شَفَق ډوبيدو په وخت[1] د ماسخُتن څلور رکعاته دي، ادا کوي به هغه اَحمد او د هغوئي اُمَّت، هغه د دُنيا وَمَا فِيْهَا (يعني دُنيا او د هغې د هر څيز) نه د هغوئي د پاره بهتر دي، هغه به هغوئي د ګناهونو نه داسې اوباسي څنګه چې د خپلو ميندو د ګيډو نه پيدا شوي وو. اے مُوسیٰ! اودَس به کوي اَحمد او د هغه اُمَّت څنګه چې زما حُکم دے، زه به هغوئي ته د اوبو د هر يوڅڅيدونکي څاڅکي په عِوَض (يعني بدله) کښې يو جَنَّت عطا کووم چې د هغې عَرض (يعني پلنوالے) به د آسمان او زمکې د پلنوالي همره وي. اے مُوسیٰ! د يوې مياشتې به هر کال روژے نيسي اَحمد او د هغه اُمَّت او هغه **د رَمَضان مياشت** ده، زه به عطا کووم [يعني ورکووم] د هغې د هرې ورځې د روژے په عِوَض کښې په جَنَّت کښې يو ښار او ورکووم به په هغې کښې د نفل په بدله کښې د فرضو ثواب او په هغې کښې به لَيْلَةُ الْقَدْر کووم، څوك به چې په دې مياشت کښې شرمندګئ (يعني پښيمانتيا) او صِدق سره يو ځل اِستِغفار (يعني توبه) اوکړي که په هُم هغه شپه يا هُم هغه ټوله مياشت کښې مړ شو هغه ته به د ديرشو شهيدانو ثواب ورکووم. (حاشيۂ فَتَاوٰی رَضَوِيّه (مُخرّجه) ج٥ ص٥٢ تا٥٤)

پڑھتے رہو نماز کہ جنت میں جاؤ گے
ہو گا وہ تم پہ فضل کہ دیکھے ہی جاؤ گے

کوئ ډير ډير مونځونه چې جَنَّت ته به لاړ شئ
کيږي به هغه فضلونه چې به ئې تاسو اوګورئ

[1] د امام اعظم ابو حنيفه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په نزد شَفَق د هغه سپين والي نوم دے کوم چې ماښام کښې د سُرخي ډوبيدو نه پس د صبا صادِق په شان خوره وي.

صَـلُّـوْا عَـلَـى الْـحَـبِـيْـب!        صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د سحر د لـمانځه فضائل

## د سحر لـمونځ كوونكے د اللّٰه په ذِمّه

صحابي اِبنِ صحابي حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عُمَر رَضِیَ اللہُ عَنۡهُمَا رِوايت كوي چې سردارِ مَكَّهٔ مُكَرَّمه، سركار مدينهٔ مُنَوَّره صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: څوك چې د سحر لـمونځ اوكړي هغه د مابنامه پورې د **الله** پاك په ذِمَّه كښې دے. (مُعْجَم كَبِير ج١٢ ص٢٤٠ حديث١٣٢١٠) يو بل رِوايت كښې دي: "تاسو د **الله** پاك ذِمّه مه ماتوئ، څوك چې د **الله** پاك ذِمّه ماته كړي الله پاك به هغه پړمخ دوزخ كښې واچوي." (مُسْنَدِ اِمام اَحمَد بِن حَنْبَل، ج٢ ص٤٤٥ حديث٥٩٠٥)

## د سحر د لـمانځه پابندي څوك كولے شي

حضرتِ عَلَّامه عبدُ الرَّءُوف مُناوي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ليكي: "څوك چې د سحر لـمونځ په اخلاص اوكړي هغه د **الله** پاك په امان (يعني حفاظت) كښې دے او خاص د سحر د لـمانځه ذِكر كولو كښې دا حكمت دے چې په دې لـمانځه كښې مَشَقَّت (يعني محنت) دے او په دې باندې پابندي صرف هٰغه كس كولے شي د چا چې ايمان خالِص وي، ځكه هغه د امان (يعني پناه) مُستَحِق وي." بل ځائے ليكي: د **الله** پاك د ذِمّے ماتولو سخت وعيد او د سحر لـمونځ كوونكي كس ته د تكليف وركولو نه د ويريدلو بيان دے. (فيض القدير ج٦ ص٢١٣ تا٢١٤)

## د شيطان جنډه

د حضرتِ سَيِّدُنا سَلمان فارسي رَضِیَ اللہُ عَنۡهُ نه رِوايت دے چې د خوږ مَدَني آقا صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د

عِبرت نه ډك فرمان دے: "څوك چې د سحر لـمانځه ته لاړو د ايمان د جنډے سره لاړو او څوك چې سحر بازار ته لاړو د اِبلِيس (يعني شيطان) د جنډے سره لاړو."
(اِبنِ مَاجَه ج٣ ص٥٣ حديث٢٢٣٤)

## رحماني او شيطاني ډله

**حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاك نه لاندې ليكي: يعني د انسانانو صرف دوه ډلې دي: ﴿١﴾ حِزبُ الله (يعني د الله ډله) او ﴿٢﴾ حِزبُ الشَّيْطٰن (يعني د شيطان ډله). د هغوئي پيژندګلو دا ده چې رَحماني ډلې والا خپله ورځ د لـمانځه او د **الله** پاك د ذِكر نه شروع كوي او شيطاني ډلې والا خپله ورځ د بازار او دُنياوي كاروبار نه شروع كوي. ياد ساتئ چې دُنيوي كاروبار منع نه دے خو سحر وختي د پاڅيدو سره نه د خُدائے نوم [اخستل] نه د هغه عبادت [كول] بلكه هغې (يعني دُنيوي كارونو) كښې مشغوليدل دا شيطاني كار دے.
(مِراٰةُالمناجيح ج١ ص٣٩٩)

## د شيطان درې غوټې لګول

د حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې سركارِ نامدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائي: چې كله تاسو كښې څوك اوده شي نو شيطان د هغه په څټ كښې درې غوټې اولګوي، په هره غوټه باندې دا خبره [د بنده] په زړه كښې كښينوي چې اوس لا شپه ډيره [پاتې] ده، اُوده شه، پس كه هغه راويښ شي او د **الله** ذِكر اوكړي نو يوه غوټه خلاصه شي، چې اودس اوكړي نو دويمه غوټه خلاصه شي او چې لـمونځ اوكړي نو دريمه غوټه هُم خلاصه شي، بيا هغه خوشحاله خوشحاله او تر و تازه سحر كړي، ګنې په غمګين زړه او سستئ سره سحر كړي.
(بُخاری ج١ ص٣٨٧ حديث١١٤٢)

## د سحر د وخت د مزيدار خوب سبب

**حضرت** عَلَّامه مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاك لاندې ليكي: شيطان د انسان

په ويښتو کښې يا تار کښې د سحر په وخت کښې د غفلت درې غوټې اولګوي، ځکه د سحر په وخت کښې مزيدار خوب ورځي. حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم د دې درې غوټو د خلاصلولو د پاره درې عملونه اِرشاد فرمائيلي دي. (کوم چې په دې بيان شوي حديث کښې موجود دي)

(مِراٰةُ الْمَنَاجِيح ج۲ ص۲۵۳)

## و خت شروع کيدو سره سمدستي د سحر سُنَّت ادا کول بهتر دي

"مَلفُوظاتِ اعلٰی حضرت" صفحه 352 کښې دي: (د سحر) اَوَّل وخت کښې سُنَّتونه ادا کول اَولٰی (يعني بهتر) دي.

## د پريشانئ په حالت کښې سحر کوونکے څوك دے؟

**حضرتِ** سَيِّدُنا عَلَّامه علي قاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د حديثِ پاك د دې حِصَّے "بيا هغه خوشحاله خوشحاله او تر و تازه سحر کړي" نه لاندې فرمائي: ځکه چې هغه د شيطان د قيد او د غفلت د ځادر نه خلاص شوے وي او د **الله** پاك خوشحالي [يعني رضا] حاصلولو کښې کامياب شوے وي. د دې برخلاف چې څوك نه د شپې ذِکْرُ الله کولو ته راپاځي، نه **اوداسه** او **لـمانځه** ته راپاځي بلکه د شيطان فرمانبردارئ کښې اُوده وي تر دې چې د سحر **لـمونځ** هُم ترينه قضا شي، نو هغه غمژن زړه د ټولو فکرونو سره او د خپل کار پوره کولو په باره کښې حيران او پريشانه سحر کړي، او چې د کوم کار هُم اِراده کوي په هغې کښې ناکامه اوسي ځکه چې هغه د **الله** پاك د نزديکت نه لرې وتے وي او د شيطان په جال کښې نښتے وي. (مِرقَاةُ الْمَفَاتِيح ج۳ ص۲۹۵ تا ۲۹۶)

يا الٰہی! فجر ميں اٹھنے کا ہم کو شوق دے　　　سب نمازيں ہم جماعت سے پڑھيں وہ ذوق دے

يا اِلٰهي شوق راکړې مونږ ته د سحر د پاڅيدلو

راكړي شـوق جَمعې سره ټول مـونځونه د كولو

## شيطان ورته په غوږ كښې متيازې كړې دي

حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ مسعود رَضِیَ اللهُ عَنْهُ بيان كوي چې بارګاهِ رسالت كښې د يو كس مُتَعَلِّق ذِكر اوكړے شو چې هغه د سحره پورې اُوده وو او لـمانځه د پاره نه وو پاڅيدلے نو خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائيلو: "د هغه كس په غوږ كښې شيطان متيازې كړې دي" (بُخاری ج١ ص٣٨٨ حديث ١١٤٤)

## د سحر لـمانځه ته نه پاڅيدل ډير سپيره كار دے

**حَكِيمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاك د دې حِصَّے (لـمانځه د پاره نه وو پاڅيدلے) نه لاندې فرمائي: (يعني) د تَهَجُّد د لـمانځه د پاره يا د سحر د لـمانځه د پاره (نه وو پاڅيدلے)، وړومبئ (يعني تَهَجُّد ته د نه راپاڅيدلو) معنٰی زياته مناسبه ده ځكه چې صحابهٔ كرامو (عَلَيْهِمُ الرِّضْوَان) به د سحر لـمونځ هيڅ كله هُم نه قضا كولو او [دا هُم] كيدے شي چې دا د يو مُنافِق واقعه وي چې هغه به د سحر لـمانځه ته نه راتلو. معلومه شوه چې د سحر لـمونځ ته نه پاڅيدل ډير سپيره كار دے، بلكه دا چې د كوتاهي كوونكو د اصلاح د پاره د هغوئي شكايت كول جائز دي غِيبت نه دے. (مِراٰةُ الْمَنَاجِيح ج٢ ص٢٥٤)

## شيطان واقعي متيازې كوي

حضرت عَلَّامه محمد بن احمد انصاري قُرطُبِي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: دا خبره ثابته ده چې شيطان خوراك څښاك او نكاح كوي نو كه هغه متيازې هُم اوكړي نو په دې كښې څه رُكاوټ دے! (عُمدةُ القاری ج٥ ص٤٨٣)

شیطان کو بھگائے گی اے بھائیو! نماز فردوس میں بسائے گی اے بھائیو! نماز

شيطان به درنه اُوزغلوي اے ورونړو دغه مونځ

فِـردوس ته به مو بوځي اے ورونړو دغـه مونځ

## د شيطان رانجه وغيره

"قُوتُ الْقُلُوب" کښې دي چې شيطان سره سَعُوط (پوزه کښې اچولو والا يو څيز) لَعُوق (څټلو والا يو څيز) او ذَرُور (سترګه کښې اچولو والا يو څيز) دے، چې کله هغه د بنده په پوزه کښې (سَعُوط) واچوي نو د هغه اخلاق بد شي، چې کله پرې (لَعُوق) اوڅټي نو د هغه ژبه بدو وئيلو والا جوړه شي او چې کله د بنده په سترګه کښې (ذَرُور) واچوي نو ټوله شپه اُوده اوسي تر دې چې سحر شي. (قُوتُ الْقُلُوب ج١ ص٨٦) (قُوتُ الْقُلُوب (اُردو) ج١ ص٢٣٧)

فجر کا وقت ہو گیا اٹھو! اے غلامانِ مصطفٰی اٹھو!

وخت د لـمانځه دے د صبا پاڅئ

اے غُـلامـانِ مُصطَفـىٰ پاڅئ

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د تَهَجُّد يا سحر د پاره د پاڅيدلو مَدَني نُسخه

تَهَجُّد ته يا د سحر لـمانځه ته پاڅيدلو د پاره د اُوده کيدو وخت کښې د شپاړسمي سيپارے، سُوْرَةُ الْكَهْف آخري څلور آيتونه اولولئ:

اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَ عَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ كَانَتْ لَهُمْ جَنّٰتُ الْفِرْدَوْسِ نُزُلًا ﴿۱۰۷﴾

خٰلِدِيْنَ فِيْهَا لَا يَبْغُوْنَ عَنْهَا حِوَلًا ﴿۱۰۸﴾ قُلْ لَّوْ كَانَ الْبَحْرُ مِدَادًا لِّكَلِمٰتِ رَبِّيْ لَنَفِدَ الْبَحْرُ قَبْلَ اَنْ تَنْفَدَ كَلِمٰتُ رَبِّيْ وَلَوْ جِئْنَا بِمِثْلِهٖ مَدَدًا ﴿۱۰۹﴾ قُلْ اِنَّمَاۤ اَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوْحٰۤى اِلَيَّ اَنَّمَاۤ اِلٰهُكُمْ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ ۚ فَمَنْ كَانَ يَرْجُوْا لِقَآءَ رَبِّهٖ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَّلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهٖۤ اَحَدًا ﴿۱۱۰﴾[1]

او نِيَّت اوكړئ چې ”زه به دومره بجے پاڅم“ اِنْ شَـآءَاللّٰه د دې آياتِ مباركه لوستلو په بَرَكت به مو سترګې اوغړيږي. كه په شروع كښې مو سترګې اُونه غړيږي نو مايوسه كيږئ مه، وظيفه جاري ساتئ. اِنْ شَـآءَاللّٰه په قلاره قلاره به تركيب جوړ شي.

## پاځيدلو د پاره الارم اولګوئ

په مُقَرَّره وخت باندې د بيداريدلو يوه طريقه دا هُم ده چې په يوه بلكه درې ګهړو [ټائم پيسونو] باندې الارم اولګوئ او اُوده شئ، چې كه په څه وجه يوه بنده شي نو چې دوه ګهړئ د راويښولو د پاره موجودې وي. موبائل فون كښې هُم د الارم سهولت وي. كه د شپې د ناوخته اُوده كيدو په وجه مو د سحر د لـمانځه د پاره سترګې نه غړيږي او نه څوك راپاځولو والا موجود وي نو

[1] [مَفهُوم]ترجمۂ كنزُالايمان: بيشكه كومو خلقو چې ايمان راوړو او ښه كارونه ئې اوكړل، د فردوس باغونه د هغوئي ميلمستيا ده، هغوئي به هميشه په هغې كښې اوسيږي. د هغې نه به ځائے بدلول نه غواړي. ته اوفرمايه كه سمندر زما د **رب** د خبرو د پاره سياهي شي نو ضرور به سمندر ختم شي او زما د **رب** خبرې به ختمې نه شي اګر كه د دې په شان نور د دې د مدد د پاره راوړو. ته اوفرمايه چې په ښكاره صورتِ بشري كښې خو زه ستاسو په شان يم، ما ته وحي راځي، دا چې ستاسو معبود صرف يو معبود دے، نو څوك چې خپل **رب** سره د مخ كيدو اُميد لري هغه ته پكار دي چې نيك كارونه اوكړي او د خپل **رب** په بندګئ [يعني عبادت] كښې دې هيڅ څوك نه شريك كوي.

ضروري ده چې زر اُوده شئ ځکه چې فُقَهائے کرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ تَعَالٰی فرمائي: ”چې کله دا ویره وي چې د سحر لـمونځ به را نه لاړ شي نو بِلا ضروتِ شَرعِیه د شپې ناوخته پورې ویښ اوسیدل ممنوع دي.“ (رَدُّالْمُحْتَار ج۲ ص۳۳)

## خوب کښې د کمي راوستلو طریقے

اعلٰی حضرت اِمامِ اهلِسُنّت مولانا شاه اِمام اَحمد رضا خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د ماسپښین د جَمعې نه مخکښې اُوده کیدلو والا ته نصیحت کوي، اِرشاد فرمائي: ”ښه ټِیك ده، د غرمے په وخت کښې اُوده شه، خو دومره نه چې د جَمعې وخت راشي، لږ شان وخت قیلوله کافي ده. که د اوګړده خوب اندیښنه لرې نو بالښت مه ګړده، بستره مه خوروه، ځکه چې بے بالښته او د بسترے نه بغیر اُوده کیدل هُم مَسنُون (یعني سُنَّت) دي. د اُوده کیدو په وخت کښې زړه کښې د جَمعې مضبوط خیال ساته ځکه چې د فِکر (یعني اندیښنے) خوب [بنده] غافلیدو ته نه پریږدي، طعام څومره چې کیدے شي سحر وختي خوره چې د اُوده کیدو د وخته پورې د طعام په وجه پیدا کیدونکي ګرمي ختمه شي او د اوګړده خوب سبب جوړه نه شي. د ټولو نه بهتر علاج ئې کم خوراك دے. د اُوده کیدو په وخت کښې **اللّٰه** پاك نه د جَمعې د توفیق دُعا کوه او په هغه باندې پوره تَوَکُّل لره. **اللّٰه** پاك چې ستا ښه نِیَّت او رښتیني اِراده اُووِیني (نو) ضرور به ستا مدد کوي.“ یو ځائے کښې فرمائي: په ډکه خیټه د شپې د عبادت شوق لرل د شنډې ښځې نه بچے غوښتل دي، څوك چې ډیره اوخوري هغه به ډیرې [اوبه] څښي، څوك چې ډیرې [اوبه] څښي (هغه) به ډیر اُوده کیږي، څوك چې ډیر اُوده کیږي هغه به پخپله دا ښیګړې او بَرَکتونه ضائع کوي. (فَتَاوٰی رَضَوِیَّه، ج۷،ص۸۸تا۹۰تسهیلًا)

اللّٰه اللّٰه کے نبی سے
فریاد ہے نفس کی بدی سے
شب بھر سوئے سے غرض تھی
تاروں نے ہزار دانت پیسے

(حدائقِ بخشش ص ١٤٥)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## لكه ټوله شپه ئې چې عبادت اوكړو

د حضرتِ سَيِّدُنا عُثمانِ غني رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه رِوايت دے چې رَسُولُ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: "څوك چې د ماسخُتن لـمونځ د **جَمعې** سره اوكړي لكه هغه چې نيمه شپه قِيام اوكړو او څوك چې سحر [لـمونځ] د **جَمعې** سره اوكړي لكه هغه چې پوره شپه قِيام اوكړو." (مُسلِم ص٢٥٨ حديث١٤٩١)

## شرحِ حديث

**حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاك نه لاندې فرمائي: د دې دوه مطلبونه كيدے شي: يو دا چې د ماسخُتن د **جَمعې** د لـمانځه ثواب د نيمې شپې د عبادت برابر دے او د سحر د **جَمعې** د لـمانځه ثواب د باقي نيمې شپې د عبادت برابر، نو څوك چې دا دواړه لـمونځونه د **جَمعې** سره اوكړي د هغه د پاره د ټولې شپې د عبادت ثواب دے. دويم دا چې د ماسخُتن د لـمانځه ثواب د نيمې شپې [د عبادت] د ثواب برابر دے او د سحر د **جَمعې** ثواب د ټولې شپې د عبادت برابر دے، ځكه چې دا (د سحر) **جَمعه** د ماسخُتن د **جَمعې** نه زياته درَنه (يعني په نفس بوج) ده، وړومبئ معنٰى زياته قوي ده. د **جَمعې** نه مُراد **تكبيرِ اُولٰى** حاصلول دي څنګه چې بعضې عُلَماء فرمائيلي دي. (مِراٰةُالْمَنَاجِيح ج١ص٣٩٦) بهارِ شريعت جلد اول صفحه 509 كښې دي: چې د وړومبي ركعت رُكُوع ئې حاصله كړه نو د **تكبيرِ اُولٰى** ثواب ئې حاصل كړو. (عالمگیری ج١ ص٦٩)

## تذكِرهٔ سيِّدُنا عُثمانِ غني رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ

**اے عاشقانِ صحابه و اهلِبَیت!** اوس چې تاسو کوم حديثِ پاك واوريدلو د هغې راوي (يعني بيانوونکے) جامِعُ القرآن، دريم خليفه حضرتِ سَيِّدُنا **عُثمانِ غني** رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دے. د حضرتِ سَيِّدُنا **عُثمانِ غني** رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هُم څه ښکلے شان دے! د هغوئي يو لقب "**ذُو النُّورَين**" (يعني دوه نُورونو والا) هُم دے، ځکه چې د **الله** تعالیٰ خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پرله پسې خپلې دوه شهزادګۍ د حضرتِ سَيِّدُنا **عُثمانِ غني** رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په نکاح کښې ورکړې وې او فرمائيلي ئې وو چې، که زما لس لونړه هُم وے نو ما به د يوې نه پس بلې سره ستا نکاح کړے وے ځکه چې زه ستا نه راضي يم. (مُعْجَم کبِير ج٢٢ ص ٤٣٦ حديث١٠٦١)

نور کی سرکار سے پایا دوشالہ نور کا
ہو مبارک تم کو ذوالنورین جوڑا نور کا

(حدائقِ بخشش شریف ص ٢٤٦)

**د شعر ترجمه:** د نُور والا سرکار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پرله پسې خپلې دوه لونړه مبارکې درکړې، اے **ذُوالنُّورَين** [يعني د دوه نورونو والا (عُثمانِ غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ)] تاسو ته دې د نُور جوړه مُبارکه شي.

**حضرتِ سَيِّدُنا عُثمانِ غني** رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د اسلام په شروع کښې اسلام قبول کړے وو، د هغوئي کنيَت "ابو عَمرو" او لقب جامعُ القرآن دے، هغوئي ته "**صاحِبُ الْهِجرَتَيْن**" (يعني دوه هجرتونو والا) هُم وائي ځکه چې هغوئي مخکښې **حَبَشه** ته او بيا **مدينے مُنَوَّرے** ته هِجرت فرمائيلے وو. (کراماتِ عُثمانِ غني ص ٣،٤)

## د عُثمانِ غني اِتِّباعِ رسُول

**اميرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سيِّدُنا** عُثمانِ غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ زبردست عاشِقِ رَسُول بلکه د عِشقِ مُصطفٰی عَمَلي نمونه وو، په خپلو خبرو او طور طريقو کښې به ئې د **الله** تعالیٰ د آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په سُنَّتو او اداګانو ډير ډير عمل کولو. چنانچه يوه ورځ عُثمانِ غني رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د جُمات په دروازه

کنبي کېنناستلو او د چيلۍ [يعني بزې] د مخکښنۍ ښپې غوښه ئې را اوغوښتله او اُوئې خوړله او د تازه اودس کولو نه بغير ئې لـمونځ ادا کړو بيا ئې اوفرمائيل چې رَسُولُ‌الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هُم په هُم دې ځائے ناست وو او هُم دا ئې خوړلې وه او هُم داسې ئې کړي وو. (مُسندِ اِمام اَحمد بن حنبل ج١، ص١٣٧، حديث٤٤١)

## دوه ځله ئې جَنَّت په بيعه واخستو

د اميرُ الْمُؤمِنِين حضرتِ سيِّدُنا عُثمانِ غني رَضِیَ اللهُ عَنْهُ شان ډير اوچت دے، هغوئي په خپل ژوند کښې د نبيِّ رَحمت تاجدارِ نُبُوَّت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه دوه ځله **جَنَّت** په بَيعه اخستے وو، يو ځل ئې په "**بِيرِ رُومه**" اخستلو چې د يو يهودي نه ئې په بَيعه واخستو او د مسلمانانو د اوبو څښلو د پاره ئې وقف کړو او دويم ځل ئې د جَيشِ عُسرت (يعني غَزوهٔ تبُوك) په موقع. چنانچه د غَزوهٔ تَبُوك په موقع باندې ئې چې د مسلمانانو بے وسي او غريبي اوليدله نو وړومبي ځل ئې د سلو اوښانو، دويم ځل د دوه سوه اوښانو او دريم ځل ئې د درې سوه اوښانو وعده اوکړه. راوي فرمائي: حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چې دا واوريدل نو ما اوليدل چې حُضُورِ انور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د مِنبر نه ښکته تشريف راوړو او دوه ځله ئې اوفرمائيل: "د نن نه پس چې عُثمان (رَضِیَ اللهُ عَنْهُ) هر څه کوي په هغې باندې مُواخَذه (يعني تپوس) نشته." (تِرمِذِی ج٥، ص٣٩١، حديث٣٧٢٠ مُلَخَّصاً)

شرم و حيا، تواضُع (يعني عاجزي)، اِتِّباعِ سُنَّت، خوفِ خُدا او فِکرِ آخرت د هغوئي د سِيرت مبارك روښانه خُصوصِيات دي. د **الله** د ويرې ئې دا حال وو چې د يقيني جَنَّتي کيدو باوجود به چرې د يو **قَبْر** خوا ته ولاړ وو نو دومره به ئې ژړل چې په اوښکو به ئې ږِيره مبارکه لـمده شوه. (تِرمِذِی ج٤ ص١٣٨ حديث ٢٣١٥)

**وفات شريف:** حضرتِ سَيِّدُنا عُثمانِ غني رَضِیَ اللهُ عَنْهُ دولس کاله په مَسنَدِ خِلافت فائز اوسيدلو نه پس په 18 ذُالحِجَّةِ‌الحرام سن 35 هِجري کښې د جُمُعے په ورځ د روژے په حالت کښې تقريباً

د دوه اتيا كالو په عُمر كښې ډير زيات مظلومِيَّت سره شهيد كړے شو. د هغوئي د شهادت نه پس حضرتِ سَيِّدُنا عبدُالله اِبنِ عَبَّاس رَضِیَ اللهُ عَنْهُمَا په خوب كښې د رَحمتِ عالم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه دا فرمان واوريدلو: بيشكه عُثمان په جَنَّت كښې عاليشان ناوك [د واده ځلمے] جوړ كړے شوے دے. (الریاض النضرۃ ج۲ ص۷٦) د اللّٰهُ رَبُّ الْعِزَّت دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په خاطر دې زمونږه بے حِسابه بخښنه اوشي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

ملی تقدیر سے مجھ کو صحابہ کی ثناخوانی ملا ہے فیضِ عثمانی ملا ہے فیضِ عثمانی

(وسائلِ بخشش ص۵۸٤)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د جُمعے د سحر د جَمعي خُصُوصي فضيلت

حضرتِ سَيِّدُنا ابُو عُبَيده بِن جَرّاح رَضِیَ اللهُ عَنْهُ بيان كوي چې رَسُولِ اكرم، رحمتِ عالَم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: د جُمُعے په ورځ ادا كوونكي د سحر د **جَمعي** لـمونځ نه غوره يو لـمونځ نشته، زما گُمان (يعني خيال) دے چې تاسو كښې څوك په دې كښې شريك كيږي د هغه گناهونه به اُوبخښلے شي." (مُعْجَم کبِیر ج۱ ص۱۵٦ حدیث ۳٦٦)

## د نبي گمان د يقين برابر وي

اے د خوږ نبي صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** په دې حديثِ پاك كښې وئيلے شوي دي: "زما گُمان (يعني خيال) دے" د دې شرح دا ده چې د نبي گُمان (يعني خيال) د يقين برابر وي.[1] لِـهذا مطلب دا شو چې د جُمعے د ورځې د سحر لـمونځ **جَمعي** سره د ادا كوونكي گناهونه به اُوبخښلے شي. اَحادِيثِ مباركه كښې چې كوم ځائے كښې د گناهونو د بخښنې تذكِره وي هلته د

[1] اوکورئ،نُزھَۃُ القاری ج۱ص٦٧٥

صغیره ګناهونو بخښنه کیدل مُراد دي ځکه چې کبِیره یعني غټ ګناهونه په توبه مُعاف کیږي.

## د سحر او ماسخُتن لـمونځونه ځلويښت ورځې

## د جَمعې سره د کولو عظیم الشّان فضیلت

کوم خوش نصیبه چې مسلسل څلويښت ورځې سحر او ماسخُتن [لمُونځ] د **جَمعې** سره ادا کړي هغه د جَهنَّم او مُنافَقَت نه آزاد کړے شي ځنګه چې خادِمِ نبي، حضرتِ سَیِّدُنا اَنَس رَضِیَ اللہُ عَنْهُ روایت کوي چې خوږ مَدَني سرکار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائیلے دے: "چا چې څلويښت ورځې د سحر او ماسخُتن **لـمونځونه** د **جَمعې** سره ادا کړل، هغه ته به **الله** تعالٰی دوه آزادئ عطا کوي. یوه د نَار (یعني اور) نه، بله د نِفاق (یعني مُنافَقَت) نه." (ابنِ عَساکِر ج۵۲ ص۳۳۸)

## دوزخ نه آزادي

د اَمیرُ **المُؤمِنِین** حضرتِ سَیِّدُنا عمر فاروقِ اعظم رَضِیَ اللہُ عَنْهُ نه رِوایت دے چې د سرورِ دو عالم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ عالیشان دے: "څوك چې څلويښت شپې په جُمات کښې **جَمعې** سره **د ماسخُتن لـمونځ** اوکړي چې وړومبے رکعت ترینه لاړ نه شي، **الله** پاك د هغه د پاره د دوزخ نه آزادي اولیکي." (ابنِ مَاجَه ج۱ ص۴۳۷ حدیث۷۹۸)

## د رسالو بَرَکت

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! خپل زړه کښې **جَمعې** سره د لـمانځه ادا کولو مضبوط فِکر پیدا کولو د پاره، د لـمانځه د پاره د خوږ خوږ خوب قربانولو سوچ پیدا کولو او هر حال کښې د رضائے اِلٰهي حاصلولو د پاره د کوشش کولو سوچ پیدا کولو د پاره د دعوتِ اسلامي مَدَني ماحول کښې اوسیدل نهایت فائده مند دي. راځئ چې د دعوتِ اسلامي یو "مَدَني سپرلے" واورو: د فیصل آباد یو اسلامي ورور به فیشن کول ډیر خوښول، چې کله به هُم

ماركيټ كښې د نوي فيشن پينټ راتلو نو هغه به اخستلو. د دُنيا په مستئ كښې داسې ورك وو چې لـمونځ كولو ته به ئې زړه نه كيدلو، مور صاحبې به چې د سحر د لـمانځه د پاره راپاڅولو نو هغه به وئيل: ''د صبا نه به لـمونځ [شروع] كووم، د دې جُمُعے نه به لـمونځونه شروع كووم'' او دغسې به ئې خبره په بله واړوله. د هغه مشر ورور چې كالِج كښې به ئې سبق وئيلو، هغه خوش قِسمتئ سره د دعوتِ اسلامي مَدَني ماحول كښې شامل شو او د هغې اثرات كور ته هُم را اورسيدل. مشر ورور ئې يوه ورځ د سُنَّتو ډكې اِجتِماع نه بيرته راغلو نو د مَكْتَبَةُ الْمَدِينه يو څو رسالے ئې ځان سره راوړلې، چې كشر ورور هغه رسالے اولوستلې نو په زړه ئې ډير اثر اوشو چې اوس به زه هُم ضرور دعوتِ اسلامي والا جوړيږم. چنانچه دے هُم د دعوتِ اسلامي د سُنَّتو ډكې اِجتِماع كښې شريك شو او هلته ئې بيان ''**تور لړمان**'' واوريدلو. هغه په ژړا ژړا توبه اوكړه او ږيره مباركه ئې هُم پريښودله، د غوثِ پاك رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه مُريد هُم شو او د دعوتِ اسلامي مَدَني كار كولو كښې ئې درسِ نظامي كښې داخله هُم واخستله او د ''وُكَلاء مجلِس'' صوبائي نګران هُم جوړ شو.

اے بیمارِ عصیاں تو آجا یہاں پر
گناہوں کی دے گا دوا مدنی ماحول

(وَسائلِ بخشِش (مُرَمَّم) ص٦٤٨)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

# د سحر او ماز ديګر فضائل

## د فرښتو د بدليدلو وختونه

د حضرتِ سَيِّدُنا اَبُو هُرَيره رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ نه رِوايت دے چې خوږ مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اِرشاد فرمائيلے دے: تاسو کښې د شپې او ورځې فرښتے وار په وار راځي او د سحر او مازديګر په لـمونځونو کښې يو ځائے شي، بيا هغه فرښتے کومو چې په تاسو کښې شپه تيره کړې ده بره طرف ته لاړې شي، **اللّٰه** پاك د باخبره كيدلو باوجود د هغوئي نه تپوس کوي: تاسو زما بندګان په کوم حال کښې پريښودل؟ هغوئي عرض کوي: مونږه هغوئي په لـمونځ کولو کښې پريښودل او چې کله مونږه د هغوئي خوا ته رسيدلي وو هغه وخت هُم هغوئي لـمونځ کولو. (بُخاری ج۱ ص۲۰۳ حديث ۵۵۵)

## هر بالِغ سره 62 فرښتے


**حضرت** مُفتي احمد يار خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د حديثِ پاك د دې حِصَّے (د سحر او مازديګر په لـمونځونو کښې يو ځائے شي) نه لاندې فرمائي: دلته د فرښتو نه مُراد يا خو اعمال ليکونکې دوه فرښتے دي يا د انسان حفاظت کوونکې شپيته فرښتے دي، هر نابالِغ سره شپيته فرښتے اوسي او بالغ سره دوه شپيته. ځکه د لـمانځه په سلام او نورو سلامونو کښې د دې نِيَّت کيږي. د دې ملائکو ډيوټياني بدليږي رابدليږي، ورځ کښې او شپه کښې، خو سحر او مازديګر لا مخکښېئ فرښتے نه وي تلي چې وروستئ ډيوټئ ته راشي، د پاره د دې چې زمونږه د ابتِدا او انتها (يعني د شروعِ کولو او ختمولو د حالت) ګواهان زيات وي. د دې حِصَّے (بره طرف ته لاړې شي) نه لاندې ليکي: خپل هيډ کوارټر ته، کوم ځائے کښې چې د دوئي مُقام دے. مُفتي صاحب د حديثِ پاك د دې حِصَّے (مونږه هغوئي په لـمونځ کولو کښې پريښودل او چې کله مونږه د هغوئي خوا ته رسيدلي وو هغه وخت هُم هغوئي لـمونځ کولو) نه لاندې ليکي: د دې مطلب يا خو دا دے چې فرښتے د لـمونځ ګُزارو پرده پوشي کوي چې د مخکښې وروستو نيکو

ذِكر كوي او مينځ كښې د شوو ګناهونو نه خاموشي [اختياروي]، يا دا مطلب دے چې اے مولا! د كومو بندګانو چې ابتدا او انتها (يعني د اَوَّل او آخر حالت) داسې وي په هغې كښې هميشه بَرَكت وي. (مِراٰةُالْمَنَاجِيح ج١ص٣٩٤،٣٩٥)

## د فرښتو والا حديث بنكلي مَدَني ګلونه

❖ لـمونځ يو اعلٰى عبادت دے چې د دې په باره كښې به سوال جواب كيږي ❖ د **سحر** او **مازديګر** لـمونځونه د نورو لـمونځونو په مقابله كښې اعظم (يعني زيات عَظَمت والا) دي ❖ په دې حديثِ پاك كښې د دې دوارو وختونو د شَرَف (يعني عَظَمت او بُزرګئ) طرف ته اشاره ده ځكه چې **د سحر د لـمانځه** نه پس رِزق تقسيميږي او د ورځې آخرئ حِصَّه (يعني د مازديګر په وخت) كښې اعمال اوچتيږي، نو كوم كس چې دې دوارو وختونو كښې په عبادت كښې مصروف وي د هغه په "رِزق و عمل" كښې بَرَكت وركولے كيږي ❖ دا اُمَّت د ټولو اُمَّتونو نه غوره دے او د دې اُمَّت د افضل كيدو نه د **الله** پاك د خوږ او آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ټولو انبيائے كرامو عَلَيْهِمُ السَّلَام نه افضل [يعني غوره] كيدل لازِم راځي. (عُمدةُالقارى ج٤ص٦٥)

د راروانې هفتې رساله





عالمي مدني مرکز فيضان مدينه محله سوداګران پراني سبزي منډي کراچي

UAN: +92 111 25 26 92 Ext: 7213

Web: www.dawateislami.net / E-mail: translation@dawateislami.net